
SATEAL
The National Body for EAL in Scotland

The Bell Foundation

# د سکاټلنډ د تعلیمي سیستم په اړه: ابتدائیه ښوونځي

## د هغو ماشومانو او تنکیو ځوانانو والدینو ته لارښود چې له انګلیسي څخه د دوهمې ژبې (EAL) په حیث استفاده کوي




### دغه لارښود کوم موارد تر پوښښ لاندې نیسي؟

دلته تاسو داسې عملي معلومات پیدا کولی شئ چې تاسو سره خپل ماشوم ته په ښوونځي کې د ځای پیدا کولو او په سکاټلنډ کې د تعلیمي سیستم په اړه د پوهاوي په برخه کې مرسته کوي.

په سکاټلنډ کې مختلف ډوله ښوونځي شتون لري چې په لاندې ډول دي:

- محلي ښوونځي.
- ځانګړي ښوونځي.
- مذهبي ښوونځي.
- ګالیکي په محلي ژبو ښوونځي.
- غیر وابسته ښوونځي (چې فیس اخلي).

دغه لارښود تاسو ته په سکاټلنډ کې د هغو ښوونځیو په اړه معلومات درکوي چې فیس نه لري.

همدارنګه په سکاټلنډ کې تاسو کولی شئ د بشپړې ورځې یا نیمې ورځې لپاره خپلو ماشومانو ته په کور کې زده کړه وکړئ. چې دې ته په سکاټلنډ کې په کور کې زده کړه وایي. په دې اړه نور معلومات دلته ترلاسه کړئ:
https://www.mygov.scot/learning-home-education-flexi-schooling/home-education-flexi-schooling

| د ترلاسه کولو ځای | د معلوماتو |
|---|---|
| **وړکتون** | جبري نه دی (ستاسو ماشوم اړتیا نه لري چې وړکتون ته لاړ شي). **د ماشوم عمر:** له زېږون څخه. د ځینو دوه کلنو او ټولو هغو ماشومانو لپاره چې عمرونه یې له 3-4 کلونو پورې دي، وړیا درسي ساعتونه دي. |
| **ابتدائیه ښوونځي** د 1ی او 2مې د 3مې درجې 4مه، 5مه، 6مه، 7مه درجه ابتدائیه ښوونځي | جبري دي (ستاسو ماشومان اړ دي چې لاړ شي). **درجې ابتدائیه ښوونځیو د ماشومانو عمر:** له 4½ - کلونونو پورې ابتدائیه ښوونځي معمولا د سهار له 9am د ماسپښین تر 3pm پورې دي، وختونه ښائي متفاوت وي. |
| **ثانوي ښوونځي** او 1ی، 5مه د متوسته ښونځیو د S2، S6 او S3 S4 | له S1 څخه تر S4 پورې متوسطه ښوونځي جبري دي. د متوسته ښوونځیو S5 او S6 درجې جبري نه بلکه په خپله خوښه دي. **درجې د زده کوونکو عمر:** له 12 څخه تر 16 کلونو پورې. |



## 1. څنګه کولی شم د خپل ماشوم لپاره په ښوونځي کې ځای پیدا کړم؟

شوراګانې (چې د محلي ادارو په نامه هم یادېږي)، د دې لپاره چې مشخصه کړي ستاسو د ماشوم لپاره باید په کوم ښوونځي کې ځای ورکړل شي له "د لاسرسي وړ سیمې"څخه استفاده کوي. کېدی شی تاسو ته ترټولو نیژدې ښوونځي ستاسو په د لاسرسي وړ سیمه کې و نه اوسي. د دې لپاره چې وپتېږئ کوم ښوونځي ستاسو په د لاسرسي وړ سیمه کې موقعیت لري، له خپل پوستي کود نه په استفادې سره د خپلې سیمې د محلي شورا وبپاڼه وګورئ. په دې اړه نور معلومات دلته پیدا کړئ: https://www.mygov.scot/register-your-child-for-a-school

که چېرې نه شئ کولی په آنلاین ډول فورمه ترلاسه کړئ یا که چېرې ښوونځي کې د تعلیمي کال په جریان کې داخله اخلئ، نو تاسو کولی شئ د خپلې سیمې د لاسرسي وړ ښوونځي سره خبره وکړئ.

تاسو کولی شئ له خپلې د لاسرسي وړ سیمې څخه د باندې نورو ښوونځیو ته غوښتنه وړاندې کړئ.

- که چېرې په ښوونځي کې ځای وا، ستاسو غوښتنلیک باید ومنل شي.
- که چېرې په ښوونځي کې ځای نه وا، نه پدې صورت کې تاسو کولی شئ له داخلي پرته وړیا ښوونځی پیدا کړئ، په خپله د لاسرسي وړ سیمه کې خپل ماشوم ښوونځي ته واستوئ او یا هم وړیا خصوصي ښوونځي پیدا کړئ.
- همدارنګه که چېرې ستاسو غوښتنه نه منل کېږي، کولی شئ د استیناف غوښتنه یا شکایت وکړئ.


د چاپ حق © د Bell تعلیمي بنسټ (چې د Bell Foundation تر عنوان لاندې فعالیت کوي)، جون 2023

## 2. زما ماشوم باید په څو کلنۍ کې ښوونځی پیل کړي؟

په سکاټلنډ کې ماشومان په 4½ کلنۍ یا 5½ کلنۍ کې پیل کوي.

- که چېرې ستاسو د ماشوم د زوکړې نېټه د مارچ د 1ۍ او اګست میاشتې د 31مې ترمنځ وي، نو ستاسو ماشوم به معمولا ښوونځی د پینځه کلنۍ په اګسټ د منې په سمستر کې پیلوي.
- که چېرې ستاسو د ماشوم د زوکړې نېټه د سپټمبر 1ۍ یا د سپټمبر د 1ۍ او د فبرورۍ میاشتې د وروستۍ ورځې ترمنځ وي، نو ستاسو ماشوم به معمولا ښوونځی د پینځه کلنۍ په اګسټ میاشت د منې له سمستر څخه پیلوي.
- که چېرې ستاسو د ماشوم عمر د ابتدائیه ښوونځي د پیلولو پرمهال د څلورو کلونو وي، کولی شئ په ابتدائیه ښوونځي کې د خپل ماشوم شمولیت د یوه کال لپاره وځنډوئ. هغه ماشومان چې څو ځله یې ابتدائیه ښوونځي کې شمولیت اخیستی کولی شي د اساسي زده کړې او ماشومانو د پالنې په برخه کې د یوه کال لپاره اضافي فیس لرونکي زده کړې ترلاسه کړي.

## 3. څنګه کولی شم د ښوونځي د مقرراتو او رخصتیو په اړه معلومات ترلاسه کړم؟

په سکاټلنډ کې د ښوونځیو مقررات او رخصتۍ متفاوتې دي.

د یادو نېټو د پیدا کولو لپاره د اړونده ښوونځي سره خبره وکړئ یا لاندې وېب پاڼه وګورئ:
https://www.mygov.scot/school-term-holiday-dates

## 4. له ښوونځي څخه څه توقعات درلودلی شم؟

د ښوونځي په اړه د نورو معلوماتو لپاره د ښوونځي لارښود وګورئ. هر ښوونځي باید خپل لارښود یا راهنما کتاب ولري.

- د تعلیمي کال په جریان کې د هر درسي ټولګي د زده کوونکي حداکثر ملي ظرفیت په لاندې ډول دی:

  د 1ۍ درجې ابتدائیه ښوونځی - تر 25 زده کوونکي.

  د 2مې او 3مې درجې ابتدائیه ښوونځی - تر 30 زده کوونکو.

  د 4مې او 7مې درجې ابتدائیه ښوونځي - تر 33 زده کوونکو پورې.

  په مختلطو ټولګیو کې د هر عمر لرونکو زده کوونکو اعظمي شمېره 25 زده کوونکي دي.

  مخلط ټولګی هغه ټولګي ته ویل کېږي چې د دوه کلن یا تر هغې د ډېر عمر لرونکي زده کوونکي په ګډه پکې زده کړه کوي (دا کار د زیات ازدحام او ستاسو د ماشوم د عدم وړتیا له امله په پام کې نیول شوی دی).

د هر ماشوم لپاره ممکن لاندې موارد شتون ولري:

- ابتدائیه فعالیتونه ترڅو په ښونځي کې ستاسو د ماشوم په بلدیا کې مرسته وشي.
- د درسونو یو منظم مهالوېش چې د عین ښوونکي لخوا به تدریس کېږي.
- ځینې داسې ځانګړي درسونه چې د متخصص ښوونکي لخوا ستاسو د ماشوم وړتیاوو ته په کتو سره اختصاص شوي وي.
- بشپړ درسي نصاب ته لاسرس – په دې اړه د نورو معلوماتو لپاره لاندې مراجعه وکړئ.
- په ټولګي کې د درس مطابق کورنۍ دنده.

### زما ماشوم به په ښوونځي کې نور څه کارونه کوي؟

ستاسو ماشوم کولی شي له درسي نصاب سربېره په نورو فعالیتونو، ښوونیزو سپارښتنو او لاندې فعالیتونو کې ګډون وکړي:



- *غونډې* او د *ټولنیز عبادت لپاره فرصتونه*.
- *له درسي نصاب سربېره فعالیتونه* او *کلبونه* ، لکه: سورت، موسیقي او ډرامه.
- د ښوونځي لخوا جالبو/سیمایي/سپورتي فعالیتونو محلونو ته تفریحي سفرونه.
- د *ماشومانو د فعالیتونو د ننداړې* په موخه *صنفي ناستې* او *ترتیبات*.
- ټولنیز فعالیتونه *او* د فیس په مقابل کې نور فعالیتونه *لکه د سپورت ورځ، ننداړتونونه*، ډیسکوګانې او *صنفي امتحانونه*.

### زه به څنګه پوهیږم چې په ښوونځي کې څه روان دي؟

ستاسو ښوونځی به تاسو سره په منظم ډول اړیکه نیسي ترڅو تاسو پوه شئ چې د ماشوم په ټولګي کې مو څه روان دي. ښوونځی به تاسو سره په لاندې مختلفو طریقو سره اړیکه نیسي:



- د *ښوونځي د ویب پاڼې له لارې* به تاسو سره د مهمو نېټو، معلوماتو او اعلاناتو په اړه تماس نیول کېږي.
- *خبرتیاوې*: کتبي پیغامونه، ټولنیزې رسنۍ (لکه ټویټر او وټس اپ).
- د *آنلاین سیستمونو له لارې:په ښوونځي کې د غذا* او له غرمې وروسته *والدینو* سره د *لیدنو* په اړه معلومات ورکول کېږي.
- *ایمېلونه* او *لیکونه*: د ښوونځي، درسي ټولګي او رخصتیو په اړه معلومات.
- *والدینو* سره له غرمې وروسته لیدنې او *رپوټونه*: مخامخ ناستې او رپوټونه.
- په *ښوونځي کې د ژوند او مضامینو په اړه ناستې* او *له* :غرمې وروسته فعالیتونه.
- مخامخ *اړیکه*: د تلفون یا ایمیل له لارې مخامخ فردي مکالمه.
- د *والدینو شورا/د والدینو د ښوونکو ټولنه*: دغه ټولنه د والدینو لخوا ټاکل شوې د والدینو ډله ده چې دنده یې د خپلو نظریاتو شریکول دي.

په دې اړه د نورو معلوماتو لپاره په ساحه کې د نورو والدینو سره خبرې وکړئ.

## 5. ښوونځي به له ما څخه څه تمه لري؟

له تاسو څخه به د یوه والد په حیث لاندې توقعات کېږي:

- هره ورځ ښوونځي ته په وخت سره د خپلو ماشومانو بوول، مګر په هغه صورت کې چې ماشومان مو ناروغ وي، لیدژمنه یا ملاقات ولري یا رخصت وي.
- ښوونځي ته د وړیا ټرانسپورټ په اړه د خپلې سیمې له شورا څخه نور معلومات دلته ترلاسه کړئ: https://www.mygov.scot/free-school-transport



- د خپل ماشوم د غیر حاضرۍ په اړه د ښوونځي سره په اړیکه کې شئ.
  د امکان په صورت کې د غیرحاضرۍ پرمهال له مخکې د ښوونځي سره په اړیکه کې شئ.
- د خپل ماشوم او کورنۍ په تړاو د هرې مهمې پېښې او شرائطو په اړه ښوونځي ته معلومات ورکړئ.
  هغوی به په خپل ټول توان سره له تاسو ملاتړ وکړي.



- هغوی ته د خپلو *روغتیایي* او *ارتباطي* جزئیاتو په اړه معلومات ورکړئ.
- ښوونځي ته داسې *رضایت پاڼې یا موافقې* چمتو کړئ چې له مخې یې ستاسو د ماشوم په تړاو د ښوونځي لخوا په سفرونو او د تصویرونو د اخیستو او داسې نورو مواردو په اړه اجازه ورکړل شوې وي.


د چاپ حق © د Bell تعلیمي بنسټ (چې د Bell Foundation تر عنوان لاندې فعالیت کوي)، جون 2023

## 6. په ښوونځي کې د اشخاصو او هغوی د موقفونو په اړه معلومات.

د ښوونځي د کاري پرسونل د *نومونو او تصویرونو لپاره* د ښوونځي لارښود یا لاسي معلوماتي کتاب یا د ښوونځي وېب پاڼه وګورئ، دغه نومونه او تصویرونه ځینې وخت په ښوونځي ته په دخولي دروازه باندې هم نصب وي.

له ښوونځي څخه پوښتنه وکړئ چې ستاسو د ماشوم سره به د ښوونځي د کاري پرسونل کوم غړی کار او مرسته کوي. په دې کې ښائي لاندې اشخاص شامل وي:



- *لوړپوړي مدیران* – لکه سرښوونکی، د سرښوونکي مرستیال، د ښوونځي مدیر.
- د *دفتر کارکوونکي* – لکه د ښوونځي د هرکلي ځانګې مسؤل.
- *تدریسي پرسونل* – لکه د درسي ټولګي ښوونکی.
- *متخصص کارکوونکي* – لکه د EAL ښوونکی (انګلیسي د دوهمې ژبې په حیث).
- د *ملاتړ کارکوونکي* – مثلا له زده کوونکي څخه د ملاتړ په موخه مرستې، ک ارکوونکو سره د زده کړې په برخه کې مرسته.

## 7. په ښوونځي څه شي زده کیږي او څه ډول تجربې یا آزموینې ترسره کیږي؟

عالي نصاب په سکاټلنډ کې د هغو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره دی چې عمرونه یې له 3-18 کلونو پورې دي.

دا یو داسي سهولت یا طرحه ده چې له مخې یې تنکیو ځوانانو، پوه، مهارتونه او د زده کړې په برخه کې د اړتیا وړ مرسته، او په 21 هېوادونو کې هغوی ته کار او ژوند برابرېږي.

له دغې طرحې څخه موخه دا ده چې هر ماشوم او ځوان وکولی شي یو:

- بریالی زده کوونکي،
- مطمئن شخص،
- مسؤل تبعه،
- او یو مؤثر کومک کوونکی و اوسي.

### درجې او صنفونه

زموږ درسي نصاب په دوه لویو درجو باندې وېشل شوی دی:

- پراخه عمومي زده کړه چې له لومړیو کلونو پیل کیږي او د S3 تر پایه دوام لري.
- د لوړې کچې برخه چې په هغې د تعلیم د کیفیت لپاره تدریس شامل دی (له S4-S6).

| | | |
|---|---|---|
| | | **پراخه عمومي زده کړه (BGE)** |
| | ابتدائیه مرحله | عمر: له 3 – P1 |
| | لومړۍ درجه | له P2 – P4 |
| | دوهمه درجه | له P5 – P7 |
| | دریمه/څلورمه درجه | له S1 – S3 |
| **د لوړې کچې برخه** | | له S4 – S6 |

پراخه عمومي زده کړه د اتو تعلیمي حوز په کچه د نصاب له مخې په پینځو درجو سره وړاندې کېږي (چې عبارت دي له: ابتدائیه، لومړی، دوهمې، دریمې او څلورمې درجې څخه).

| | | | |
|---|---|---|---|
| سواد او انګلیسي | ژبې | روغتیا او هوساینه | ښکلي هنرونه |
| ټولنیزې زده کړې | علمونه | دیني او روحي تعلیمات | اعدادي مفاهیم او ریاضي |

هره نصابي یا تدریسي برخه د یو لړ تجاربو او پایلو په اساس په څو برخو وېشل کېږي (چې ډېری وخت د Es او Os په اساس راجع کېږي):



"تجربه" د زده کړې وضاحت کوي. "پایلې" د دې ښودنه کوي چې د زړه کړې له لارې به څه ترلاسه کېږي. زده کوونکي به ارزونه کوي چې ماشومان په کومو مواردو پوهېږي، درک ترې لري او دا چې آیا هغوی د تجاربو او پایلو سره څه کولی شي. ارزونه یوازې د آزموینو په اساس نه ترسره کېږي. په دې اړه نور جزئیات دلته ترلاسه کړئ: https://education.gov.scot/learning-in-scotland



### د سکاټلنډ لپاره په معیارونو برابرې ملي ارزونې (NSA)

ماشومان او تنکي ځوانان د اولیه زده کړې او اعدادو سره د آشنایی پرمهال په P1، P4، P7 او S3 درجو کې په معیارونو برابرې ارزونې په آنلاین ډول بشپړوي. ارزونې مرسته کوي چې د ماشومانو د پرمختګ په اړه تشخیص وشي او ښوونکو سره د مسلکي قضاوت لپاره د معلوماتو په چمتو کولو کې مرسته او ملاتړ وشي.


ماشومان او تنکي ځوانان نه باید د دا ډول ارزونو لپاره په درسونو مرور وکړي او چمتووالی ونیسي، ځکه دا ډول ارزونې بریالی او ناکام نه لري.

## 8. زما ماشوم به په ښوونځي کې څه ته اړتیا لري؟

د ښوونځي د یونیفورم او دا چې له کومه ځایه کولی شئ دغه یونیفورم وپېرئ، د خپل ماشوم له ښوونځي څخه پوښتنه وکړئ.



- په سکاټلنډ کې ډېری ښوونځي له خپلو زده کوونکو غوښتنه کوي چې یونیفورم واغوندي.
- ستاسو د ماشوم ښوونځی به تاسو ته د هغو شیانو یو لېست چمتو کړي چې تاسو اړتیا لرئ و پېرئ او تاسو ته به ووایي چې له کومه ځایه کولی شئ دغه شیان وپېرئ، همدارنګه له خپل ښوونځي څخه د PE (فزیکي زده کړې)، کېټ او د لامبو د حوض په اړه هم پوښتنه وکړئ.
- ښائی تاسو د ښوونځي "د یونیفورم په برخه کې د یوې ډالۍ" لپاره په شرائطو برابر وئ. تاسو کولی شئ په دې اړه نور معلومات دلته ترلاسه کړئ: https://www.mygov.scot/clothing-grants



په ښوونځي کې د خپل ماشوم د غرمنۍ د انتخابونو په اړه چې په لاندې ډول دي، له خپل ښوونځي څخه پوښتنه وکړئ:

- په ښوونځي کې ډوډۍ – ځینې وخت د ښوونځي د غرمنۍ یا غرمې ډوډۍ په *نامه* هم یادېږي.
- بسته بندي شویې د غرمې ډوډۍ- چې له کوره ښوونځي ته راوړل کېږي.
- په کور کې د غرمې ډوډۍ – د غرمې ډوډۍ لپاره کور ته تلل.


د چاپ حق © د Bell تعلیمي بنسټ (چې د Bell Foundation تر عنوان لاندې فعالیت کوي)، جون 2023

په ښوونځي کې د غذایي مینیو، د هغې د بیو *او دا* چې د یادو مصارفو لپاره څه ډول تادیه باید وشي، په اړه پوښتنه وکړئ، څکه:

- د ابتدائیه ښوونځیو د 1 – 5 درجې زده کوونکي کولی شي وړیا خواړه ترلاسه کړي، په دې برخه کې ستاسو د کورنۍ مالي وضعیت مهم نه دی.
- ښوونځی کولی شي تاسو سره د ځانګړیو غذایي رژیمونو اړتیاوو په برخه کې مرسته وکړي، مثلاً: د حلالو خوړو په برخه کې.
- ځیني ښوونځي خپلو زده کوونکو ته وړیا شیند او/یا تازه میوه چمتو کوي.

که چیرې له خپل ښوونځي څخه د نورو امتیازاتو ترلاسه کوونکي یاست، نو د وړیا خوړو لپاره هم غوښتنه وکړئ څکه دا کار تاسو سره د د ښوونځي د یونفورمي ډالۍ په برخه کې مرسته کولی شي. د خپلې سیمې د شورا په وېب پاڼه کې غوښتنلیک ثبت کړئ. تاسو کولی شئ په دې اړه نور معلومات دلته ترلاسه کړئ:
[https://www.mygov.scot/school-meals](https://www.mygov.scot/school-meals)




ګڼ شمې سکاټلنډي ښوونځي د تفریح پرمهال خپلو زده کوونکو سره یو ځای کوچنۍ ناشتا میل کوي (چې دغې وقفې ته ځیني وخت انټروال یا "د ساتېرۍ وخت" وایي. د هغوی د غه ناشتا ښائي یو څه تازه مېوه، ساندوېچ یا بیسکوېټ و اوسي. هغوی ته داسې خواړه مه ورکوئ چې په ترکیب کې یې غوړ یا کوچ وي، څکه په ډېرې ښوونځیو کې له غوړو یا کوچو عاري خواړه ورکول کېږي.

## 9. د هغو زده کوونکو لپاره چې دا ډول تسهیلاتو ته اړتیا لري، نور کوم اضافي ملاتړ شتون لري؟

ټول ماشومان او تنکي ځوانان حق لري چې د زده کړې په برخه کې خپلې بلقوه کچې ته د رسېدو په موخه له هغوی څخه د اړتیا وړ ملاتړ وشي. په سکاټلنډ که یو ډول اختصاصي یا ځانګړی تعلیمي سیستم موجود دی چې تمرکز یې د زده کړې *او* هر ماشوم ته د هغې د مؤثریت *پروړاندې د پرتو خنډونو په له منځه وړو دی.*

ځیني ماشوان او تنکي ځوانان اضافي ملاتړ ته اړتیا لري.



یو ماشوم کېدی شي د لاندې لاملونو په ګډون د ګڼ شمېر لاملونو له وجې اضافي ملاتړ ته اړتیا ولري:

- د زړه کړې لپاره چاپېریال.
- د کورنۍ شرائط.
- روتیایي یا معلولي اړتیاوې.
- ټولنیز او عاطفي فکتورونه.

ستاسو اړونده محلي اداره به خپله داسې پالیسي یا تګلاره لري چې له مخې یې وضاحت کېږي چې څنګه به ستاسو ماشومانو او هغو تنکیو ځوانانو ته ملاتړ مشخصوي، طرحه کوي او بلاخره چمتوي کوي به یې چې په زده کړه کې اضافي مرستې ته اړتیا لري.

## 10. څنګه کولی شم خپل ماشوم سره په زده کړه کې مرسته وکړم؟

خپل ماشوم سره د زده کړې په برخه کې د مرستې په اړه د معلوماتو لپاره دلته کلېک وکړئ یا
www.bell-foundation.org.uk/eal-programme/guidance/parental-involvement/ ته مراجعه وکړئ.